## (F) برخه: د سرمایه ګذارۍ یا پانګونې اهمیت او ارزښت

## دریم لوست: د قرض یاپور(اعتبار)د منابعو تشخیص یا ټاکنه

### د زده کونکو د زده کړې موخې یا هدفونه:

زده کونکي به ددي لوست په زده کړه کي له لاندې موخو یا هدفونو سره اشنا شي:

**۱** – د هغو قرضو یا پورونو تشریح کول چي د قرضه ورکونکو موسسو او نهادونو پواسطه برابریږي.
**۲** – د هغه کریدیتونو تشریح کول چي په رسمي توګه ورکول کیږي.
**۳** – د هغه قرضو یا پورونو تشریح کول چي په غیر رسمي توګه ورکول کیږي.

**د لوست ورکولو لپاره وړاندیز شوی وخت:** ۱ ساعت
**وړاندیز شوي منابع یا زیرمې:** لاندې منابع کیدلی شي چي په دي لوست کي ګټوري تمامي شي:

- ددي لوست درسي پلان د کمپیوټر په پاورپواینټ په پروګرام کي اریه شوی دی

*Decisions & Dollars*. Alexandria, Virginia: The Council for Agriculture Education, 1993. (Curriculum Binder, Unit 1)
*High School Financial Planning Program*. National Endowment for Financial Education and Cooperative Extension Service, 1992.
Barry, Peter, Paul Ellinger, John Hopkin, and C.B. Baker. *Financial Management in Agriculture*. Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc., 1995.
Andersen, Erna and Amanda Sim. *Microcredit, Informal Credit and Rural Livelihoods: a Village Case Study in Balkh Province*. Afghanistan Research and Evaluation Unit, 2008.

**فهرست سامان آلات، وسایل، تجهیزات لازم و تسهیلات**

ورق یا صفحه سفید برای نوشتن

پراجکتور برای پاورپواینت

سلایدهای پاورپوانیت

سلاید های شفاف

د زده کونکو د ورقو کاپي

**اصطلاح ګاني:** لاندې اصطلاح ګاني په دي لوست کي به تراستعمال لاندې راشي(ذکر شوي اصطلاحات د پاورپواینټ په ۲ شمیره سلاید کي ارایه کیږي):

1. Collateral تضمین یا وثیقه(ضمانت).

2. Consumption smoothing د عادی مصارفو لپاره قرض یا پور.
3. Co-signer شاهد او تضمین کونکی.
4. Credit union مرسته کونکی بانک یا د قرض یا پور ورکونې اتحادیه(ټولنه)
5. Defaulting د پیسو په پرداخت کولو کي ځنډ کول.
6. Formal credit رسمی قرض یا پور.
7. Informal credit غیر رسمی قرضه یا پور.
8. Institutional credit هغې قرضي یا پورونه چي له موسساتو یا ادارو څخه اخستل کیږي.
9. Intermediate-term credit د منځنی مودې یا وخت قرضونه.
10. Production credit د تولید قرض یا پور.
11. Real estate financing غیر منقول مالي دلیل
12. Short-term credit د لنډي مودې قرضه یا پور
13. Wholesaler's credit د عمده پلوروکی قرض یا پور
14. د ورځآنه مصارفو لپاره قرضه یا پور (Consumption credit )

**په زړه پوري تګلاره**: بحث د دي پوښتنې په اړه چي د زده کونکو کورنۍ په څه ډول سره قرضي یا پورونه په لاس راوړي، پیل کړئ. او همدې بحث ته د لوستي موخو یا هدفونو سره اړیکه ورکړئ. په ځانګړي توګه د لوست لومړۍ موخه یا هدف.

**د محتویاتو خلاصه او د لوست ستراتیژي**

**لومړۍ موخه یا هدف:** د هغو قرضو یا پورونو تشریح کول چي د قرضه ورکونکو موسسو او نهادونو پواسطه برابریږي.
**وړاندیز شوی مسله:** د موسسو له قرضونو یا پورونو څخه په څه ډول سره استفاده صورت نیسي؟

(دپاور پواینټ ۳ شمیره سلاید)

1. **نهادي قرضونه یا پورونه (*Institutional*)**، له هغه قرضو یا پورونو څخه عبارت دي چي له قرضه یا پور ورکونکو موسسو څخه په لاس راځي.

- **د لنډي مودي قرضونه یآ پورونه ( *Short-term credit*)** – معمولاً په یوکآل کي بیرته ورکول کیږي.
    i. له دآسې قرضونو یآ پورونو څخه د ورو شیآنو د آخستلو لپآره آستفآده کیږي.

(دپاور پواینټ ٤ شمیره سلاید)

- **د منځنی مودي یا وخت قرضه یا پور (*Intermediate-term credit*)** – له هغې قرض یا پور نه عبارت دی چي د یو نه تر پنځه کالو په موده کي ورکول کیږي .

- ❖ له داسې قرضونو يا پورونو څخه د موټرونو په اخستلو کي استفاده کيږي.

(دپاور پواينټ ٥ شميره سلايد)

- ❖ **د غير منقولې شتمنی د اخستنې په خاطر دلايل (*Real estate financing*)**، له هغه مالونو څخه عبارت دي چي له پنځه کلنو څخه پراخوالی پيداکوي.
  - ■ دانوعه وجوحات د ځمکې او کور په اخستلو کي تر استعمال لاندې نيول کيږي.

(دپاور پواينټ ٦ شميره سلايد)

- ■ **وثيقه يا تضمين(ضمانت) (*Collateral*)**، له هغه شتمنی نه عبارت ده چي د قرضي د لاسته راوړلو په خاطر د ګروي په شکل ورکول کيږي.
  - ■ په هغه صورت کي چي قرضه پرداخت نه کړل شي، تضمين شايد د قرض د دوپاره لاسته راوړنې په خاطر و پلورل شي.

(دپاور پواينټ ٧ شميره سلايد)

- ■ په هغه صورت کي چي د جنس يا شی تضمين شتون ونه لري په دي صورت کي بل شخص چي د ضامن(***cosigner***) په نوم دی د قرضې يا پور په مسووليت کي شريکيږي که چيری قرضدار قرض ورنه کړ، نو ضامن د هغې مسووليت په غاړه لري. چي داسې شخص په نامه د (Co-signer) يا ضامن سره ياديږي.

له **TM: 2-1** درسي موادو څخه چي ددي لوست پوري د مربوطه اصطلاحاتو لرونکی دي. د زده کونکو د ارزيابي په خاطر هغه بررسي کړئ. د بانک له نماينده څخه غوښتنه وکړي يا يي دعوت کړئ ترڅو چي ټولګې ته راشي او د هري نوعي قرضې يا پور د لاسته راوړني په خاطر له تاسې سره خبري وکړي.

دوهمه موخه يا هدف: د هغه کريديتونو تشريح کول چي په رسمي توګه ورکول کيږي.
**وړانديز شوی مسله**: رسمي قرض يا پور ورکول څهٔ دی (What is formal credit lending?)

(دپاور پواينټ ٨ شميره سلايد)

- ❖ رسمي قرضه يا پور ورکول ( *Formal credit* lending)، د قرضو يا پورونو له معاملاتو نه عبارت دي چي د قوانينو په يو سيستم کي داخل عملي کيږي.
  - ■ يوه نوعه رسمي قرضه يا پور له هغه قرضي نه عبارت ده چي له اتحادې يا ټولنې څخه په لاس راځي دا نوعه قرضه د مضاربت په اساس(په تاوان او ګټهٔ کي شريک) په لاس راځي داسې مفکوره شتون لري چي قرضه ورکونکي اتحادي يا ټولنې نه يوازې مالي خدمتونه برابروي ، بلکي د خلکو ونډه اخستل هم تقويه او هڅوي.

(دپاور پواينټ ٩ شميره سلايد)

1. د قرضه يا پور ورکونکو شل اتحادي يا ټولنې(مرسته کونکی بانک) په شمالي، جنوبي او شرقي ولايتونو په مختلفو نقطو کي شتون لري .
2. اکثره قرضي يا پورونه چي ددي ټولنو پواسطه برابريږي د زراعت د سکتور او زراعت پوري مربوطو تشبثاتو لپاره وي. ځني قرضي حمايه کونکي فعاليتونه د تجارت او صنعت په برخه کي هم له خپل ځآن سره لري.

(دپاور پواينټ ١٠ شميره سلايد)

3. مرسته کونکي بانکونه یا قرضه ورکوکي اتحادي یا ټولني دوه نوعه خدمتونه عرضه کوي: په حساب کي اچول پس انداز او له محصول نه ډکي قرضي یا پورونه (productive loans).
4. مورد نظر کسان یا اشخاص باید حق العضویت ورکړي ترڅو چي قرضه یا پور ورکونکي اتحادي یا ټولنې (مرسته کونکی بانک) سره یوځای شي. البته د حق القضویت اندازه له یوي اتحادي نه بلي اتحادي سره توپیر لري.

(دپاور پواینټ ۱۱ شمیره سلاید)

- ❖ د مرسته کونکو بانکونو غړي د سود په عوض د سرمای یا پانګې په مقابل کي خپل پس انداز، برخي(د کمپنی یا بانک برخه) په لاس راوړي. لاسته راوړنه د برخه لرونکو غړو لپاره له دري نه تر اتو فیصدو پوري په کال کي وي البته دا په نظر کي نیول چي اتحادیه یا ټولنه په څه ډول سره ښه کولی شي چي له اصلي سرمایي نه ګټه په لاس راوړي، د برخو او قرضي د ورقو جمع کول په څه ډول سره صورت نیسي او عملیاتي مصارف په څه ډول سره کم شوي دي.

(دپاور پواینټ ۱۲ شمیره سلاید)

- ❖ ددي لپاره چي غړي د قرضي د شرایطو پوري تړلي وي، پس اعضا یا غړي باید په مابین د ۱۸ نه تر ٦۰ کاله عمر ولري او د ولایت دایمي اوسیدونکی وي. د غړیتوب افیسر، فلسفه، د پروګرام جوړونکی، شرایط او پړاوونه د قرض اخستنې د شتونو لرونکو غړو لپاره او احتمالي غړو لپاره تشریح کوي. له قرض یا اخستونکو سره سوالونه یا پوښتني مطرح کیږي چي هغوي له پیسو څخه په څه ډول سره استفاده کوي، څه پلان لري، او باید ځني د استخدام فورمي، کاروبار یا مهارت فورمي له ځانه سره ولري.

(دپاور پواینټ ۱۳ شمیره سلاید)

- ❖ په عمومي صورت سره، د قرض یا پور موده د ټولو قرض یا پور اخستونکو لپاره شپږ میاشتي وي، بیا هم دا موضوع له یوي اتحادي نه بلي اتحادې ته د قرض یا پور اندازه او د استفادې کولو نوعه توپیر کوي. قرض اخستونکي چي له پور یا قرضې څخه د تجارت او یا پرچون کاروبار په خاطر قرض یا پور په لاس راوړي، داسې فکر کیږي چي دوي د لاسته راوړنې یا عاید جریان په دوامدار شکل سره لري نو په دي بنا هغوي توقع کوي ترڅو چي اصلي پیسي او سود په میاشتني توګه بیرته ورکړي.

(دپاور پواینټ ١٤ شمیره سلاید)

- ❖ هغه شمیر قرضه یا پور اخستونکي چي قرضه د زراعت او مالدارۍ د کاروبار په خاطر په لاس راوړي، دري میاشتي وخت ورته ورکول کیږي ترڅو چي لومړۍ قسط(installment) خپل تادیه کړئ او باید چي د شپږ میاشتو په موده کي ټولې خپلي بیرته ورکوني یا بازپرداختونه تکمیل یا بشپړ کړي.
- ❖ هغه شمیر قرضه یا پور اخستونکي چي حساب یي ورکړل شوي نه وي( outstanding balance) د هغوي په قرضو یا پورونو باندې سود وضع کیږي، په دي معني چي که چیري هرڅومره ژر د پیسو بیرته ورکړه صورت ونیسي نو د هغوي په ګټه تماميږي.
- ❖

د **TM: 2-2**لوستي يا درسي مواد زده کونکو ته وښایاست ترڅو چي د رسمي قرضي یا پور مفاهیم واضح او روښانه شي.

**دریمه موخه یا هدف:**د هغه کریدیتونو تشریح کول چي په رسمي توګه ورکول کیږي.

**وړاندیز شوی مسله:** غیر رسمي قرض یا پور ورکول څه دی:

(دپاور پواینټ ۱۵ شمیره سلاید)

- غیر رسمي قرضي(*Informal credit*) یا پورونه د هغې قرض له معاملاتو نه عبارت دي چي د دوه دوستانو په منځ کي او هغو کسانو په منځ کي چي اجتماعي یا ټولینزي اړیکي ولري، صورت نیسي. دا نوعه قرضي یا پورونه د قوانینو او مقرراتو پوري تړلي نه وي، یعني داسي قرضي یا پورونه د یو منظم سیستم له نظارت نه د باندې صورت نیسي.

(دپاور پواينټ ١٦ شميره سلايد)

❖ غير رسمي قرضي يا پورونه له هغه قرضو نه عبارت دي چي په غير رسمي شکل سره او د رسمي سيستم نه د باندې صورت نيسي. دا نوعه قرضي يا پورونه معمولاً د هغه شمير اشخاصو په منځ کي واقع کيږي چي په خپلو کي پيژندګلو ولري او اجتماعي يا ټولنيزي اړيکي ولري.

(دپاور پواينټ ١٧ شميره سلايد)

❖ غير رسمي قرضي يا پورونه ( Informal credit)  د قريه جاتو د اوسيدونکو لپاره په پراخه توګه شتون لري او له داسې قرضو يا پورونو څخه معمولاً په ساده او تسکيني مصارفو کي استعمال صورت نيسي يا استعماليږي(ددي لپاره چي د ژوندانه معيارونه تنزيل او سقوط ونه کړي) او يا هم ددي لپاره چي ځي مشخصي منځته راتلي لکه واده کول مړی کي قرض يا پور اخستل کيږي.

(دپاور پواينټ ١٨ شميره سلايد)

❖ د غير رسمي قرضونو يا پورونو بيرته ورکول ډير شفافي او روښانه وي ددي لپاره چي د بيرته ورکولو شرايط معمولاً معين او مشخص نه وي. غير رسمي قرضي يا پورونه هغه وخت بيرته ورکول کيږي چي قرض يا پور کونکی د بيرته ورکولو توان پيدا کړي.

(دپاور پواينټ ١٩ شميره سلايد)

❖ په غير رسمي قرضو يا پورونو کي ډير کم داسې واقع کيږي چي قرض کونکی په بيرته ورکولو کي ځنډ يا قصور (*defaulting*)وکړي، يا په دي معني سره چي د قرضې يا پور پيسي بيرته ورنه کړي. او د هغې علت دا دی چي د قرضه ورکونکي او قرضه اخستونکی په منځ کي دوه جانبه اړيکي(reciprocal)  شتون لري. له شک نه پرته اجتماعي يا ټولنيزي اړيکي نسبت مالي معاملاتو ته د دواړو لورو لپاره زيات اهميت يا ارزښت لري، پس زياته برخه په خرج ورکول کيږي ترڅو چي دا اړيکي کلکي وساتل شي.

(دپاور پواينټ ٢٠ شميره سلايد)

❖ قرض کونکی يا پور اخستونکي هغه وخت بيرته پيسي ورکوي کله چي هغوي د بيرته ورکړي توانايي ولري. قرض يا پور ورکونکی دا معذرت او حالت قبلوي، او داسې فکر کوي چي يوه ورځ به هغه هم له داسې ستونزی سره مخامخ شي چي ورته ضرورت به ولري .

(دپاور پواينټ ٢١ شميره سلايد)

❖ دري نوعه مختلف قرضونه يا پورونه چي له دوکاندارانو څخه په لاس راځي:

- مصرفي قرض ( *Consumption credit*)يا پور له هغه قرض نه عبارت دی چي ديو کس پواسطه د ورځانه مصارفو لپاره لکه غذا يا خوراکه او د ضرورت وړ موادو لپاره اخستل کيږي .

- د قريي اهل په عمومي توګه د قري له دوکاندارانو سره د قرض يا پور اړيکي لري، ځني خلک او کورنی په منظم شکل سره له معينو او مشخصو دوکاندارانو څخه قرض يا پور اخلي.

(دپاور پواينټ ۲۲ شميره سلايد)

- **د عمده پلورونکو قرضونه يا پورونه** ( *Wholesaler's credit* )،له هغه قرضو يا پورونو څخه عبارت دي چي له عمده پلورونکو څخه د دوکاندارانو پواسطه په مارکيټ کي د دوکانونو د اکمالاتو لپاره اخستل کيږي.
  - د قرضونو يا پورونو څخه يو څه برخي(اوګرئي) بايد په دوامدره شکل سره ورکول شي ترڅو په دي توګه زياتي قرضي يا پورونه په لاس راوړل شي. کله چي دوکاندار خپل اخستونکی ته قرض يا پور ورکوي، بايد ډير مختاط وسي ترڅو چي د مشتريانو يا اخستونکو او عمدپلورنکو د اوګرئي په منځ کي بيلانس يا اندازه وساتي.

(دپاور پواينټ ۲۳ شميره سلايد)

- د توليد قرض( *Production credit*)، له هغه قرض يا پور نه عبارت دی چي د زراعينو يا کښت کونکو پواسطه د قري له دوکاندارانو څخه اخستل کيږي، البته هغه دوکانداران چي لوي دوکان يا عمده پلورنځی په مارکيټ کي ولري، دا قرض يا پور ددي په خاطر اخستل کيږي ترڅو د زراعت د توليد د عواملو لپاره له هغې څخه استفاده وکړل شي .
  - په عمومي توګه تقريباً داسې قرضي يا پورونه د زراعتي عواملو( agricultural inputs) په خاطر د خاوري د اماده کولو په جريان کي اخستل کيږي، په داسې حالت کي کښت کونکي زياتو پيسو ته اړتيا ياضرورت لري ترڅو له هغې نه ګټوره استفاده وکړي.

د **TM: 2-3** درسي يا لوستي مواد زده کونکو ته وښاياست ترڅو چي د رسمي قرضونو يا پورونو مفاهيم د هغوي لپاره واضح او روښانه شي.

**مرور بيا کتنه۱خلاصه يا لنډيز:** ددي لوست د د خلاصې يا لنډيز په خاطر د زده کونکو له زده کړو موخو يا هدفونو څخه استفاده وکړئ(د پاور پواينټ ٢٤ شميره سلايد) زده کونکي د هري موخې يا هدف پوري مربوطه محتوياتو ته وغواړئ. د زده کونکو له ځوابونو څخه کولی شی د هغه موخو يا هدفونو لپاره په اساسي توګه چي بايد مد نظر ونيول شي يا له مختلفې زاوي نه تدريس کړل شي، استفاده وکړی.

**ارزيابی:** ارزيابی بايد د زده کونکو د لوستي يا درسي موخو پاندې په اشناکيدو سره متمرکزه وي. مختلفي تګلاري د زده کونکو د ارزيابۍ لپاره شتون لري، مثلاً د زده کونکو اجرات په فعاليتونو کي او يا په دي برخه کي له نمونه ازموينې څخه د زده کونکو د اشناکولو لپاره د موخو يا هدفونو په خاطر، استفاده وکړئ. په لکلې بڼه ازموينه له دي سند سره پيوسته ارايه شوی ده.

**نمونه ئي ازمويني ته ځوابونه**

**مطابقت ورکول**

1. B
2. J
3. I
4. E
5. C
6. F
7. H
8. A
9. G
10. D

**تشي يا خالي ځآيونه ډک کړئ!**

1. Intermediate-term credit د منځنۍ مودي قرضونه يا پورونه
2. Collateral تضمين يا وثيقه(ضمانت)
3. ګټوري قرضي يا پورونه او امانت پس انداز.
4. شپږ مياشتي

**لنډ ځواب**

**١ - د نمره ورکولو په خاطر د لوست دريمه موخه يا هدف مشاهده کړئ.**

## نمونه ئئ ازموينه

## دقرض يا پور(اعتبار) د منابعو تشخيص او تعين

**نوم :** ________________

**مطابقت وركول**

**لارښوونه:** د صحيح يا درست ځواب په وړاندې مطابقه اصطلاح وړاندې کړئ. داصطلاح تورى نظر دهغې په تعريف سره وليکئ.

- ❖ ورځني مصارف
- ❖ شاهد يا ضامن(ضمانتګړی)
- ❖ قرض يا پور ورکونکي اتحاديه يا ټولنه
- ❖ د قرض يا پور په بيرته ورکولو کي قصور يا ځنډ کول
- ❖ رسمي قرضه يا پور
- ❖ غير رسمي قرضه يا پور
- ❖ هغه قرضونه يا پورونه د قرض يا پور ورکونکو ادارو يا نهادونو پواسطه برابريږي
- ❖ د منځنۍ مودي قرض يا پور
- ❖ د غير منقولو مالونو دلايل
- ❖ دلنډې مودي قرضونه يا پورونه

______ ۱ له هغه کس يا شخص نه عبارت دی چي د قرض يا پور د بيرته ورکولو مسوولیت کي برخه په خپله غاړه لري.

______ ۲ هغه پيسي چي د يو کال په موده کي بيرته ورکول کيږي.

______ ۳ هغه قرضونه يا پورونه چي معمولاً د پنځو نه تر ديرش کلونو په موده کي بيرته ورکول کيري.

______ ۴ د قرضي يا پور معاملي چي د قوانينو او مقرارتو په يو سيستم کي داخل اجرات کوي.

______ ۵ نه يوازې دا چي د مالي خدمتونو لپاره وسيله وي، بلکي دخلکو ونډه اخستل هم تقويه کوي او هغه هڅوي.

______ ۶ د قرض يا پور له هغه معاملي نه عبارت ده چي د دوه دوستانو، خپلوانو او هغه خلکو په منځ کي وي چي په خپلو کي سره ټولنيزي اړيکي ولري.

______ ۷ هغه قرضونه يا پورونه چي معمولاً د يو نه تر د پنځه کالو په منځ کي  بيرته ورکول کيري.

______ ۸ هغه اقدامات چي د ژوندانه د سطحې د معيارونو د تنزيل د مخنيوی مصونيت لپاره سرته رسيري.

______ ۹ له هغه قرضونو یا پورونو نه عبارت دي چي له قرض یا پور ورکونکو موسسو نه په لاس راوړل کیږي.

______ ۱۰ هغه څوک چي پیسي بیرته نه ورکوي.

**خالي یا تش ځایونه ډک کړئ: لاندې جملي تکمیلي یا بشپړي کړئ!**

۱– هغه قرض یا پور چي دموټر د اخستنې لپاره اخستل کیږي د ______________ قرض یا پور په نوم سره یادیږي.

۲ - ________ د هغه شتمنۍ نه عبارت ده چي د قرضې د درست کولو په خاطر په تضمین یا ضمانت ورکول کیږي.

۳ – د قرض یا پور ورکونکي اتحادي یا ټولني(مرسته کونکي بانکونه) دوه نوعه خدمتونه ____________ او ______________ وړاندي کوي.

۴ – په عمومي توګه د قرض یا پور اخستلو موده یا وخت د ټولو قرض کونکو لپاره ___________ وي، بیا هم د قرض یا پور تر اندازې او له هغې نه د استفاده کولو له نوعې پوري اړه لري.

**لنډ ځواب: لاندي سوالونو یا پوښتنو ته ځوابونه وړاندې کړئ!**

دري د قرضونو یا پورونو نوعي چي له دوکاندارانو څخه په لاس راځي کومي دي؟ هغه تشریح او روښانه کړي.

TM: 2-1

## CREDIT TYPES

د کريديت يا قرضونو نوعي

- د لنډي مودي کريديت
  - o معمولاً په يوه کال کي بيرته ورکول کيږي.
  - o معمولاً ددي نوعه قرض يا پور يواسطه واړه شيان اخستل کيږي.
- د منځنۍ مودي قرضونه يا پورونه
  - o معمولاً ديو کال نه تر پنځو کلونو په موده کي بيرته ورکول کيږي
  - o شايد له هغې څخه د موټر په اخستلو کي استفاده وکړل شي
- په غيرمنقوله شتمنۍ کي وجه پيداکيدل
  - o دا نوعه قرض يا پور له پنځه نه تر ديرش کلونو پوري محدود وي
  - o له دي نوعه قرض يا پور څخه د کور يا ځمکې په اخستلو کي استفاده کيږي.
- تضمين يا وثيقه(ضمانت)
  - o
  - o له هغه شتمنيو نه عبارت دي چي د قرض يا پور د لاسته راوړنې په خاطر د ضمانت په توګه ورکول کيږي.
  - o په هغه صورت کي چي تضمين يا ضمانت د جنس يا شی په ډول شتون ونه لري نو له شخص څخه د ضمانت په ډول استفاده صورت نيسي.

TM: 2-2

FORMAL CREDIT

**رسمی قرض یا (اعتبار)**

- په عمومي صورت سره د قرض یا پور موده د ټولو قرض اخستونکو لپاره شپږ میاشتي وي، بیاهم دا موضوع له یوي اتحادي نه بلي اتحادې ته د قرض اندازه او د استفادي نوعې ته توپیر کوي.
- د بانکونو مرسته کونکي غړي د سود په عوض د سرمایي په مقابل کي خپل پس انداز، برخي(د کمپنی یا بانک برخه) په لاس راوړي.
- رسمي قرض یا پور ورکول ( *Formal credit* lending)، د قرضي یا پور له معاملاتو نه عبارت دي چي د قوانینو او مقرراتو په یو سیستم کي داخل عملي کیږي.
- هغه قرضه یا پور دی چي له اتحادې نه په لاس راځي دا نوعه قرض یا پور د مضاربت په اساس( په تاوان او ګټه کي شریک) په لاس راځي داسي مفکوره شتون لري چي قرض یا پور ورکونکي اتحادې نه یوازې مالي خدمتونه وړاندي کوي، بلکي د خلکو ونډه اخستل هم تقویه او تشویقوي.
- ترمورد نظر لاندې اشخاص باید لومړی د غړیتوب حق ورکړي ترڅو د قرضې له اتحادې سره(مرسته کونکی بانګ) یواځای شي. البته د غړیتوب حق له یو ي اتحادي نه بلي اتحادي ته توپیر لري.
- اکثره قرضي یا پورونه چي ددي اتحادیو یا ټولنو پواسطه برابریږي د زراعت د سکتور لپاره او د زراعت پوري مربوطه تشبثاتو په خاطر وي. ځني قرضونه حمایوي فعالیتونه د تجارت او صنعتي خدمتونو په برخه کي هم د خپل ځان سره لري.
- ددي لپاره چي غړي د قرضي پوري د مربوطه شرایطو لرونکي وي، پس غړي باید د ۱۸ نه تر ٦۰ کالو په عمر کي وي او د ولایت همیشني اوسیدونکي وي.
- په عمومي صورت سره، د قرضي یا پور موده د ټولو قرض اخستونکو لپاره شپږ میاشتي وي، بیا هم دا موضوع له یوي اتحادي نه بلي اتحادي ته د قرض د اندازې او استفادي د نوع په اساس توپیر کوي.

## INFORMAL CREDIT

## غیر رسمي قرضي یا پورونه

- غیر رسمي قرضي یا پورونه (*Informal credit*)، د قرضي یا پور له هغه معاملاتو نه عبارت دي چي په منځ د دوستانو، خپلوانو او هغه کسانو کي چي اجتماعي یا ټولنیزي اړیکي ولري، صورت نیسي.
- غیر رسمي قرضي یا پورونه د قوانینو او مقرراتو پوري محدود نه وي، یعني داسې قرضي یا پورونه د یو منظم سیستم له نظارت څخه بیرون صورت نیسي.
- غیر رسمي قرضي یا پورونه ( **Informal credit**) د قریه جاتو د اوسیدونکو لپاره تر استفادي لاندې نیول کیږي.
- د غیر رسمي قرضو یا پورونو بیرته ورکول ډیر باریکه وي ددي لپاره چي د بیرته ورکولو شرایط معمولاً معین او مشخص نه وي.
- په غیر رسمي قرضو یا پورونو کي ډیر کم داسې واقع کیږي چي قرض کونکی په بیرته ورکولو کي قصور یا کوتاهي(*defaulting*) وکړي، یا په دي معني چي دقرض پیسي واپس نه کړي.
- غیر رسمي قرضي یا پورونه هغه وخت بیرته ورکول کیږي چي قرض کونکی یي د بیرته ورکولو توان پیدا کړي.
- د هغه قرضونو یا پورونو نوعي چي له دوکاندارانو څخه په لاس راځي:
  - د مصرف لپاره قرضي یا پورونه.(Consumption credit )
  - د عمده پلورنې لپاره قرضي یا پورونه.(Wholesaler's credit )
  - د تولید قرضي یاپورونه.(Production credit )